# د پُل صِراط احوال

14-January-2021



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډك بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ ط

اَمَّا بَعْدُ! فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰہ

اَلصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

# د پُل صِراط احوال

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. دلته دا خبره ياده ساتئ چې د اِعتِكاف نِيَّت صرف د خوراك څښاك يا اُوده كيدلو د پاره كول نه دے پكار بلكه چې مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. ”**فتاوىٰ شامى**“ كښې دي: كه څوك جُمات كښې خوراك څښاك يا اُوده كيدل غواړي نو د اِعتِكاف نِيَّت دِ اوكړي، لږ ساعت دِ **ذِكرُ الله** اوكړي بيا چې څه غواړي كولے شي (يعني بيا كه غواړي نو خوراك څښاك كولے شي او اُوده كيدے شي) كه كيدے شي نو د اِعتِكاف د نِيَّت كولو نه پس دولس ځله دُرُود شريف اووائې يا بل يو نيك كار اوكړئ. اِنْ شَآءَاللّٰہ ثواب به مو زيات شي او ورسره ورسره به ستاسو د پاره په جُمات كښې خوراک څښاک او اُوده كيدل وغيره هُم جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د خوږ آقا، مكّـي مَدَنـی مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: په ما باندې كثرت سره دُرود شريف لولئ، ځكه چې په قبر كښې به تاسو نه زما په باره كښې

تپوس کيږي او اوئې فرمائيل: دُرُود شريف به د قيامت په ورځ په پُل صِراط باندې د تيارې په وخت کښې نُور وي. (1)

| | |
|---|---|
| بچاوے تم کو جو دوزخ سے ایسے محسن پر | سدا اسلام کہو عمر بھر درود پڑھو |
| عبث گناہوں کی شامت میں مارے پھرتے ہو | خدا کی تم پے ہو رحمت اگر درود پڑھو |
| ہزار درد کو ایک دوا کفایت ہے | جو پیش آئے ذرا بھی خطر درود پڑھو (2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "**نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**" د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے. [3]

**مَدَني گل:** نيك او جائز کار کښې چې خومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

✿ د شروع نه تر آخره پورې به بيان اورم ✿ عِلمِ دِين به زده کووم او په هغې به عمل کووم ✿ چې زده ئې کړم نو نورو ته به ئې هُم زده کووم ✿ د جُمات او د بيان د ادب خيال به ساتم او په ادب به کښينم.

---

1... افضل الصلات علی سید السادات، الفصل الرابع، ص٢٧

2... نور ایمان، ص٥

3 (معجم کَبِیر سھل بِن سعد الساعدی... الخ٦/١٨٥، حدیث٥٩٤٢)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** نن زمونږ د اجتماع د بيان موضوع ده "**د پُل صِراط احوال**". په دې بيان کښې به اورو چې ❁ حضرتِ سَيِّدُنا حسن بصري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه به د **پُل صِراط** ذِکر څنګه کولو؟ ❁ هر يو به په **پُل صِراط** تيريږي خو څنګه؟ ❁ **پُل صِراط** پينځلس زره کاله لاره ده ❁ خلق به په **پُل صِراط** باندې څنګه تيريږي؟ د هغوئي حالتونه به څنګه وي؟ ❁ د قيامت په ورځ کيدونکي شرمندګي به هيڅ فائده نه ورکوي ❁ د **پُل صِراط** د ويرې صحابي اوژړول ❁ په **پُل صِراط** باندې تيز تيريدونکي به څوک وي؟ ❁ په **پُل صِراط** باندې به کومې کومې نيکۍ په کار راځي؟ ❁ په **پُل صِراط** باندې به کوم کوم اعمال زمونږ په لاره کښې رُکاوټ جوړيږي. او د دې نه علاوه نور ډير اهم معلومات د اوريدلو سعادت به حاصلوو. اِنۡ شَآءَاللّٰه

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د سَيِّدُنا حَسَن بَصري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه د پُل صِراط ذکر

يوه ورځ حضرتِ سَيِّدُنا حَسَن بَصري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه خلقو ته د بيان کولو د پاره کښيناستلو نو خلقو د هغوئي خوا ته نِزدې راتللو د پاره يو بل له دِيکې ورکولې. هغوئي چې دا حال اوليدلو نو اوئې فرمائيل: اے زما ورونړو: نن تاسو زما خوا ته نِزدې راتللو د پاره يو بل ته دِيکې ورکوئ، صبا په ورځ د قيامت به ستاسو څه حال وي؟ چې پرهيزګاران به د **اللّٰه** پاک رحمت ته نِزدې وي او ګنهګاران به لرې کړے شي، چې کله به نيکو خلقو ته اووئيل شي: تاسو په **پُل صِراط** پوريوځئ او ګنهګارانو ته به

اووئيل شي چې تاسو جَهَنَّم ته غوزار شئ. آه! ما ته معلومه نه ده چې زه به ګنهګارانو سره دوزخ ته غوزاريږم او که د نيکانو خلقو سره به په **پُل صِراط** پوريوځم. دا ئې چې اُووئيل نو د سَيِّدُنا حَسَن بَصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په سترګو کښې اوښکې راغلې او په ژړا ژړا بےهوشه شولو. د هغوئي خوا ته نِزدې ناست خلق هُم په ژړا شُو. څه ساعت پس هغوئی رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه [چې په هوش کښې راغلو نو] اوئې فرمائيل: اے ورونړو! آيا تاسو له د جَهَنَّم د ويرې نه ژړا نه درځي؟ واورئ! څوک چې د جَهَنَّم د ويرې نه ژاړي نو **اللّٰه** پاك به هغه [په هغه ورځ] د جَهَنَّم نه آزاد کړي، په کومه ورځ به چې د مخلوق په څټونو او ښپو کښې د اوسپنې زنځيرونه اچولے شوي وي او راښکودلے کيږي به. (1)

**اے عاشقانِ رسول!** د **پُل صِراط** په بيان کولو باندې بےهوشه کيدلو نه دا خبره معلوميږي چې دا مُعامله معمولي نه ده بلکه د سخت ازمينښت نه تيريدل دي او د دې بيانوونکے هُم د خپل وخت قاضي او امام حضرت سَيِّدُنا حسن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه وو. چې د هغوئي په باره کښې حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡه دُعا کړي وه چې، **يا اللّٰه!** دوئي ته د دين پوهه عطا کړې او په خلقو کښې ئې خوښ کړے جوړ کړې. د هغوئي د خوفِ خُدا دا عالَم وو چې د څلويښتو کالو پورې ئې نه دي خندلي، هغوئي به چې کله ناست وو نو داسې به ښکاريدلو لکه په سخته ويره کښې اخته يو قيدي دے او د مرګ سزا ورته اوروله شوي ده او د سر پريك کولو د پاره راوَستے شوے دے. چې خبرې به ئې کولې نو داسې به ښکاريدلو لکه آخرت ئې چې مخې ته دے او هغې ته ګوري او بيانوي ئې، چې کله به خاموشه شو نو داسې به محسوسيدله لکه مخې ته ئې چې اور لـمبې وهي! چې کله به ورته عرض اوکړے شو چې تاسو دومره په ويره او غم

1... بحر الدموع، الفصل السادس: تنبيه الغافلين من نسيان الآخرة، ص٥٣، آنسوؤں کا دریا، ص77

کښې ولے اوسيږئ؟ نو په ډيره عاجزئ به ئې اوفرمائيل: زه د دې خبرې ويرې په غم کښې اچولے يم چې که په ورځ د قيامت زما د بعضو اعمالو په وجه **الله** پاك په ما غضب اُوفرمائي اَو اُوفرمائي چې: اے حسن! ځه، زه تا نه بخښم. نو زما به څه کيږي![1]

گر تو ناراض ہوا میری ہلاکت ہو گی		ہائے میں نارِ جہنم میں جلوں گا یارب!

عفو کر اور سدا کے لیے راضی ہو جا		گر کرم کر دے تو جنت میں رہوں گا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!		صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## هر کس به په پُل صِراط تيريږي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** پُل صِراط حقيقي طور شته دے او په هغې اِيمان راوړل واجب دي.[2] په هغې اِيمان راوړل واجب دي او انکار ئې گمراهي ده.[3] په هغه پُل باندې تيريدلو نه بغير هيڅ څوك هُم جَنَّت ته نه شي تللے ځکه چې جَنَّت ته د تللو لاره هم دغه ده.[4]

د **الله** پاک په کلام کښې د هر څيز بيان دے، د دې داسې برکتونه دي چې د دې يو لفظ لوستلو باندې لس نيکئ ميلاويږي راځئ! چې وارو چې د **الله** پاك په دې ښکلي کلام کښې د جَهَنَّم په باره کښې څه بيان دے: په شپاړسمه سيپاره سورهٔ مريم آيت نمبر 71 کښې ارشاد دے:

---

1...اِحیاءُ الْعُلوم،۴/۲۳۰

2...شرح صاوی، ص۱۱۵

3...المعتقد مع المعتمد، ص۳۴۴

4...حدیقة ندیة، ۱/۲۸۵

| | |
|---|---|
| وَ اِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ۚ (پ۱۶، مریم:۷۱) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان : او په تاسو کښې هيڅ څوک داسې نشته چې هغه به په دوزخ نه تيريږي، ستا د رب په ذمه دا ضرور فيصله شوي خبره ده. |

د حضرت قتاده رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې په جَهَنَّم باندې د واقع کيدو نه مراد په پُل صِراط باندې تيريدل دي کوم چې د جَهَنَّم د پاسه خور کړے شوے دے. (1)

## د پُل صِراط فاصله؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! پُل صِراط** چې په دې به هر يو تيريږي، راځئ چې د دې په باره کښې واورو: د حضرت فُضَيل بِن عِياض رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه منقول دي چې: **پُل صِراط** پينځلس زره کاله لار ده، پينځه زره کاله د بره ختلو، پينځه زره کاله د لاندې کوزيدلو او پينځه زره کاله د هغې په شا د تللو. او په هغې به هغه کس تيريږي څوک چې به د **الله** د ويرې کمزورے وي. (2)

اوس واورئ! چې **پُل صِراط** به ځنګه وي او په هغې باندې به د تيريدلو والؤ څه حال وي؟ خوږ آقا مکِّی مَدَنی تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **پُل صِراط** به د ښوئيدلو ځائے وي، په هغې به ډيرې پلنې پلنې داسې کُنډې وي چې هغه به راتاؤ کړے شوي وي چې هغه چا ته اولګي نو هغه به زخمي کړي يا به ئې په خپله ځُوکه کښې اونښلوي او جَهَنَّم ته به ئې غوزار کړي، دا مُعامَله به نازکه ولے نه وي چې **پُل صِراط** د ويښته نه زيات نرے، د تُورې د خُلې نه زيات تيره دے او دا به د جَهَنَّم په شا باندې

1...تفسير البحر المحيط، مريم ۷۱، ۶/۱۹۸

2...البدور السافرة، ص۳۳۴، مختصراً

اېنښودلے شوے وي، قَسم په خدائے! دا سخته تشويش ناکه مرحله ده، هر يو به په هغې تيرېږي. جَنَّت ته د تللو هم دغه لاره ده. د ټولو نه اوَّل به نبئ آخِرُ الزمان مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تيرېږي، بيا به نور انبياء او رسُولان عَلَيْهِمُ السَّلَام ، بيا به د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمتيان او بيا به نور اُمتونه تيرېږي او په **پُل صِراط** باندې به خلق په مختلف انداز تيرېږي، بعضې خو به داسې تيز تير شي لکه د بجلئ ځرک، لکه يو ځرک چې اوشي او غائب شي، بعضې به د تيزې هوا په شان، بعضې به داسې لکه مرغئ چې الوَځي، بعضې داسې لکه اس چې منډه وهي، بعضې داسې لکه سړے چې منډه وهي، تر دې چې بعضې به په ښوئيدلو ښوئيدلو او بعضې به د ميږي په چال روان وي او د **پُل صِراط** دواړو طرفو ته به غټې غټې کونډے زوَړندې وي، د کوم کس په باره کښې چې حکم کيږي، هغه به نيسي او بعضې به زخمي کوي او هغوئي به په زخمي حالت کښې پُل صِراط باندې پوريوځي.(1)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## په پُل صِراط باندې د تيريدونکو مختلف احوال

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د هغه پُل په باره کښې لږ تَصَوُّر اوکړئ چې د جَهَنَّم د پاسه جوړ شوے دے، د ټُورې نه تيره او د ويښته نه زيات نرے دے. په هغې به هغه کس ثابت قدم وي او خلاصے به مومې ځوک چې په دې دُنيا کښې په صراطِ مستقيم باندې ثابت قدم اوسيدلے وي، خو چا چې په دې دُنيا کښې نيغه لاره پريښودې وي او د نافرمانو او ګناهونو بوج ئې په شا کړے وي هغه به په وړومبي قدم

1...بهارِ شريعت ج1، ص147۔148۔

د پُلْ صِراط نه او ښوئيږي او [جَهَنَّم ته به] غوزار شي.

لږ سوچ اوکړئ! هغه وخت به د ويرې نه څومره رپيږو چې کله د پُلْ صِراط نري کيدلو او د هغې لاندې تور جَهَنَّم ته اوګورو، په غوږونو به مو د اور د شُعلو او د هغې د جوش وهلو آوازونه لګي، بيا په داسې وخت کښې به مو حالت کمزورے، زړه پريشانه، او ښپې رپيږي او په شا به مو دومره بوج وي چې په [هواره] زمکه به هم نه شو تللے، د دې باوُجود به په پُلْ صِراط تيريدل راپيښ وي، هغه وخت به مو څه حال وي چې په پُلْ صِراط باندې يو قدم ايښودو سره راته د هغې تيره کيدل محسوس شي خو په دويم قدم اخستلو به هم مجبوره يُو، په خپلو سترګو به وِينُو چې خلق ښوئيږي او ښکته جَهنَّم ته غوزاريږي او د دوزخ فرښتے ئې د اوسپنو په ګُنډو را نيسي، آه! څومره خوفناك منظر به وي، آه! د ختلو ځائے به ډير سخت او ډير تنګ وي.

## خواهش به صرف خواهش پاتې شي

اوس لږ خپل حالت طرف ته هُم اوګورئ مونږ به د هغه پُلْ طرف ته روان يُو، او هغې ته به خيژو، د ګُناهونو پيټے به را په شا وي، يو طرف او بل طرف ته به خلق وينو چې جَهَنَّم ته غورزيږي او غمخوار آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به فرمائي: ''يَارَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ'' يعني اے زما ربه دوئي بچ کړې دوئي بچ کړې. پُلْ صِراط نه د ډيرو خلقو د ښوئيدلو په سبب به د جَهَنَّم نه د تباهئ او بربادئ چغې او غَوغا اوريدلے کيږي، خو دغه وخت به زمونږ پښيمانتيا مونږ ته هيڅ فائده نه راکوي، اوس سوچ اوکړئ چې الله دِ نه کړي که زمونږه ښپې هم اوښوئيدلې نو هغه به څنګه خوفناکه نظاره وي؟ پُلْ صِراط باندې تيريدلو وخت کښې به زمونږ حالت دا وي چې د ځان د پاره به مرګ خوښوو: هائے! هُم دا خو هغه ورځ ده چې مونږ به ترينه ويريدلو، هائے افسوس! چې د ځان نه

مخکښې خو مو د آخرت د ژوند د پاره څه نيکۍ راليږلې وے؟ کاش! په سُنَّتو مو عمل کړے وے، کاش چې! فلانکے مې دوست نه وے جوړ کړے، کاش چې! زه خاورې وے، کاش چې! زه يو قابلِ ذِکر څيز نه وے، هائے کاش چې! زه د موره نه وے پيدا! [چې څوک بد نصيبه وي نو] دغه وخت به ئې د اور شُعلے اوچت کړي او يو غږ کوونکے به اووائي: په دې کښې رټلے شوے پروت اوسه! او نورې خبرې مه کوه. بيا به هلته د ژړا او فرياد او چغو وهلو او مدد غوښتلو نه سِوا بله هيڅ لاره نه وي.

| | |
|---|---|
| ہے سر پر بارِ عِصیاں پُل صِراط اب پار ہو کیسے | سنبھالو ورنہ دوزخ میں گروں گا یارسولَ اللہ[1] |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** هغه وخت به ټولې خطرے زمونږ مخې ته وي نو سوچ اوکړئ چې هغه وخت به مو د هوش او عقل څه حال وي؟ که په دې ټولو څيزونو د ايمان لرلو باوُجود مونږه بيا هُم غفلت اختيارو او د دې د تيارۍ په مُعامَله کښې سُستي کوو نو زمونږه نقصان او سرکشي ډيره زياته ده. امام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: اے مومنه! ستا داسې ايمان به تا ته څه فائده درکړي چې تا د ګناهونو پريښودلو او د عباداتو کولو په ذريعه د **الله** پاك راضي کولو ته نه راپاروي. که ستا مخې ته پُل صِراط باندې د تيريدلو سختې او هغه زړه درَزَوونکے منظر وي اګرچې ته په سلامتيا سره تير شې نو بيا هم آيا دا ويره ستا د ملا ماتولو د پاره کمه ده؟

**اے عاشقانِ رسول!** د پُل صِراط ويره به څنګه وي؟ د دې يوه نَظاره اوګورئ: چنانچه حضرت يحيٰی بِن يَمان فرمائي: ما يو سړے اوليدلو چې د هغه د سر او ګيرې ويښته تور

---

[1] … وسائل بخشش، ص323۔

وو او هغه يو ښکلے انسان وو. چې کله هغه اُوده شو نو هغه خوب اوليدو چې خلق د حشر په ميدان کښې جمع دي او د اور يو درياب دے او په هغې د پاسه پُل خور دے. خلق په هغه پُل تيريږي، په دې کښې هغه ته چا غږ اوکړو اَو را اوئې بللو[چې ته هُم راشه په دې پُل تير شه نو] هغه [ورغلو او هغه] پُل ته داخل شو، څه ګوري چې هغه د تُورې د خُلې په شان نرے دے او هغه پرې [داسې روان دے چې کله] ښي طرف ته او [کله] ګڅ [طرف ته تِيتِ شي يعني داسې چې د غورزيدلو ويره ئې وي] او روان وي. چې سحر د خوبه رابيدار شو نو د ويرې او دَهشت نه ئې د سر او ګيرې ويښته سپين شوي وو. (1)

**اے عاشقانِ رسول!** لږ غور خو اوکړئ چې د **پُل صِراط** ويره څومره زياته ده چې يو ښکلي ښائسته ځلمي په خپله ځوانئ کښې صرف په خوب کښې **پُل صِراط** اوليدلو او د هغې د ويرې ئې د سر او ګيرې ويښته سپين شو.

## د پُل صِراط ويرې صحابي اوژړولو

حضرت سَيِّدُنا جلالُ الدين سُيُوطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل حضرت سَيِّدُنا عبدُ الله بِن رَوَاحَه رَضِيَ اللهُ عَنْه خپلې بي بي په ژړا اوليدلو نو هغه هُم په ژړا شوه. هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْه ترينه تپوس اوکړو چې: ته ولے ژاړې؟ هغې اُووئيل چې: تاسو مې په ژړا اوليدلئ نو ما له هم ژړا راغله. حضرت سَيِّدُنا عبدُ الله بِن رواحه رَضِيَ اللهُ عَنْه اوفرمائيل: ما ته دا **الله** پاك دا فرمان را ياد شو: **وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا** ''او په تاسو کښې به هر يو په دوزخ تيريږي.'' او ما ته معلومه نه ده چې زه به د جَهَنَّم نه نجات حاصل کړم او که نه.(2)

---

1...سفر آخرت کے منازل، ۲/۷۲

2...مستدرک، ۵/ ۸۱۰، الحديث: ۸۷۸۶

## كاش! زه د موره نه وے پيدا شوے

حضرت سَيِّدُنا ابومَيسَره عَمْرو بِن شُرَحْبِيل رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه يو ځل د آرام د پاره تشريف يوړلو نو بےقراره شو او اوئې فرمائيل: كاش چې! زه د موره نه وے پيدا. د هغوئي بي بي محترمې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا عرض اوكړو: تاسو داسې ولے وائې؟ هغوئي اُوفرمائيل: بيشكه **الله** پاك په جَهَنَّم باندې د تيريدلو خبر وركړے دے خو مونږ ته دا خبر نشته چې مونږ به په دې تير شو او كه نه.(1)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليدل! زمونږه بُزُرګانِ دين به په **پُل صِراط** باندې د تيريدلو او جَهَنَّم ته د غورزيدلو د انديښنې په وجه ځومره په ويره كښې اوسيدل. غور اوكړئ! د كومو بُزُرګانِ دين واقعات چې مونږه واوريدل، دا **هغه عظيمې هستئ** دي چې د هغوئي شپې او ورځې په عبادتونو كښې تيريدلې، دا **هغه عظيمې هستئ** دي چې د هغوئي په ژبه به هر وخت ذِكْرُ الله جاري وو، دا **هغه عظيمې هستئ** دي چې هغوئي به د **الله** پاك د ويرې نه نظر ښكته ساتلو او د ستركو نه به ئې اوښكې رواني وې، خو زمونږه حال د هغوئي نه بالكل اُلټه دے، زمونږ په زړونو كښې د **پُل صِراط** هغه ويره نشته كومه چې پكار ده، ځكه چې ❀ **كه زمونږ په زړونو كښې د پُل صِراط ويره وے** نو آيا مونږ به يو لمُونځ قضا كړے وے؟ ❀ **كه زمونږ په زړونو كښې د پُل صِراط ويره وے** نو آيا په فرض روژو نيولو كښې به مو سُستي كولے؟ ❀ **كه زمونږ په** زړونو كښې **د پُل صِراط ويره وے** نو آيا مونږ به په زكوٰة وركولو كښې كوتاهي كولے؟ ❀ كه زمونږ په زړونو كښې **د پُل صِراط ويره وے** نو آيا مونږ به د خلقو غيبتونه كولے؟ ❀ كه زمونږ په زړونو كښې **د پُل صِراط ويره وے** نو آيا مونږ به دروغ وئيلے؟ ❀ كه

---

1...اَلْبُدورُ السّافِرة ص٣٤٣

**زمونږ په زړونو کښې د پُل صِراط ويره وے** نو آيا زمونږه لاسونه به حرام کار له ورغلي وے؟ او آيا سترګو به مو حرام طرف ته کتلے وے؟ يا به زمونږه غوږونه په حرامو اوريدلو کښې مشغوله شوي وے؟ ❀ **که زمونږ په زړونو کښې د پُل صِراط ويره وے** نو آيا مونږ به د خلقو حقونه ضائع کولے؟ الغرض ❀ **که زمونږ په زړونو کښې د پُل صِراط ويره وے** نو آيا په ګناهونو کښې به مو زړه لګيدلے؟ يقيناً که مونږه غور اوکړو نو زمونږ په زړونو کښې **د پُل صِراط ويره** کمه شوي ده.

**کاش چې**! مونږه په سنجيدګئ سره د خپلو اعمالو جائزه واخلو او کاش چې! د مرګ ويره مو په زړونو کښې پيدا شي، **کاش چې**! زمونږ په زړونو کښې د قبر ويره پيدا شي، **کاش چې**! په زړونو کښې مو د ميدانِ حشر د ګرمئ او سختئ ويره پيدا شي، **کاش چې**! په په زړونو کښې مو **پُل صِراط** باندې د تيريدلو ويره پيدا شي. **کاش چې**! په زړونو کښې مو د جَهنَّم ويره پيدا شي. يا ساتئ! نن که په دُنيا کښې زمونږ په زړونو کښې د **الله** پاک ويره پيدا شي نو دا ويره به مونږه په **پُل صِراط** باندې په آسانئ سره پورې باسي، چنانچه

حضرت فُضَيل بِن عياض رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: ''د **الله** د ويرې په سبب کمزورې، ضعيفه او ناتوانه اوسيدونکي به **پُل صِراط** باندې په آسانئ پوريوځي.'' [1] نن که په دُنيا کښې مونږه د جَهَنَّم نه پناه غواړو نو په آخرت کښې به هم د دې نه بچ کيدو کښې کامياب شو ځکه چې

په حديثِ پاك کښې دي: کوم بنده چې د جَهَنَّم نه پناه غواړي، جَهَنَّم وائي: اے

1...پل صراط کی دہشت، ص7

رَبــه! دا زما نه پناه غواړې، ته ده ته پناه ورکړې. (1)

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَــبِـيْــب!          صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## نيك اعمال به مو په پُل صِراط پوريباسي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د پُل صِراط د دومره دَهشت باوُجود به هم بعضې خلق په هغې د بجلئ په شان تيز تيريږي او بعضې خلق به په مينځني رفتار او بعضې به په ښوئيدلو ښوئيدلو تيريږي، د هغوئې داسې تيريدل به د هغوئې د اعمالو په وجه وي څنګه چې

مُفسّرِ قرآن، حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په مِراٰةُ المناجيح كښې په پُل صِراط باندې د تيريدونكو په باره كښې فرمائي: د هغوئې په رفتار كښې به دا فرق د هغوئې د نيكو اعمالو او د اخلاص په وجه وي، چې څنګه عمل او څنګه اخلاص ئې وي هم هغسې به ئې هلته رفتار هُم وي. په اَشِعَّةُ اللَّمعات كښې دي: په پُل صِراط باندې تيزئ سره د تيريدلو اصل وجه زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اُمَّتيانو باندې نظر كرم كول دي يعنې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره چې د چا څومره زيات نِزدې والے [يعني محبَّت او د سُنَّتو پيروي] وي هغه همره زيات به ئې رفتار هُم تيز وي. (2)

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَــبِـيْــب!          صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په پُل صِراط باندې تيز تيريدونكي

الله پاك خپل نبــي حضرت سَيِّدُنا داؤد عَلَيْهِ السَّلَام ته ارشاد اوفرمائيل: اے داؤد! آيا تا ته

---

1...مسند أبي يعلى، ۵/۳۷۹، حديث: ۶۱۶۴، بهارِ شريعت، ۱/۱۶۳

2...مراة المناجيح، حوض و شفاعت كا بيان، ج7، ص 474 بتغير قليل

معلومه ده چې په **پُل صِراط** باندې د ټولو نه تيز تيريدونكي به څوك وي؟ هغه خلق چې زما په فيصله راضي اوسي او د هغوئي په ژبو زما ذِكر جاري اوسي.[1]

معلومه شوه چې د **الله** پاك په رضا راضي اوسيدل او د هغه ډير ډير ذِكر كول بنده په **پُل صِراط** باندې په تيزئ سره پورې باسي.

**اے زما خوږو اسلامي وروڼو!** د **الله** پاك په رضا راضي اوسئ، كوم رزق چې هغه دركړے دے په هغې قَناعت اوكړئ، هغه چې موږ په كوم حال كښې ساتلي يُو، په هر حال كښې د هغه شُكر ادا كول پكار دي، د مال حِرص د زړه نه اوباسئ، په ورځ د قيامت د دې حساب پُل صِراط باندې د ركاوټ سبب جوړيدے شي. په ژبه **ذِكرُ الله** جاري ساتئ ځكه چې فضول او د بےحيائي خبرې كول د **الله** پاك د ناراضئ سبب دي.

# په پُل صِراط باندې په كار راتلونكي نيكئ

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** كه موږ د **پُل صِراط** د پريشانئ نه بچ كيدل غواړو نو موږ له په دې لړ شان ژوند كښې داسې نيك اعمال كول پكار دي چې هغه په **پُل صِراط** باندې د آسانئ ذريعه جوړ شي. هغه كوم اعمال دي چې په **پُل صِراط** باندې په كار راځي په هغې كښې يو **لمُونځ** دے. د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: څوك چې د لمُونځ پابندي كوي **الله** پاك به پينځـو خبرو سره د هغه عِزَّت كوي. (1) د هغه نه به تنګي او (2) د قبر عذاب لرې كړي (3) هغه ته به **الله** پاک نامۀ اعمال په ښي لاس كښې وركوي (4) هغه به **پُل صِراط** باندې د بجلئ په شان تيز پوريوځي او (5) جَنَّت ته به بے حسابه داخل شي.

---

1... حلية الاولياء ۸/۱۴، حديث [illegible] مختصراً

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د لَمانځه ډيرې فائدے دي: ❁ لمُونځ په **پُل صِراط** باندې پکار راتلونکے عمل دے، ❁ لمُونځ د دِين ستن ده، ❁ لمُونځ د خوږ آقا صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سترګو يخ والے دے، ❁ لمُونځ د مسلمان او غير مُسلمه په مينځ کښې فرق کولو والا عمل دے، ❁ لمُونځ په بارګاهِ اِلٰهي کښې د حاضرئ ذريعه ده، ❁ لمُونځ د مومِن مِعراج دے، ❁ لمُونځ د آرام او سکون حاصلولو ذريعه ده، ❁ لمُونځ د **الله** پاك د رحمتونو او نزديکت حاصلولو سبب دے، ❁ لمُونځ سره د **الله** پاك مدد نصيب کيږي، ❁ لمُونځ ګناهونه ورانوي، ❁ لمُونځ ظاهر و باطن پاك کوي او روح ته سکون ورکوي، ❁ لمُونځ په رزق کښې برکت راولي.

**اے عاشقانِ رسول!** ياد ساتئ! ❁ **لمُونځ نه کول** په دُنيا او آخرت کښې د نقصانونو سبب دے، ❁ **لـمونځ نه کول** د **الله** پاك ناراضګئ او غضب ته دعوت ورکوي، ❁ **لـمونځ نه کول** په مال کښې د کمي او نقصان سبب دے، ❁ **لـمونځ نه کول** د بدې خاتمے سبب دے، ❁ **لـمونځ نه کول** د قبر په امتحان کښې د ناکامه کيدو باعث دے، ❁ د **لـمانځه نه غفلت کول** د جَهَنَّم حقداري ده، مونږ له پکار دي چې پينځه واړه لمُونځونه په ډير شوق او مَحبَّت سره په جُمات کښې د تکبيرِ اُولٰی سره په وړومبي صف کښې ادا کوو او هيڅ کله هُم په لَمانځه کښې سُستي نه کوو.

میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت | ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی! (1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## صدقه ورکول

1...وسائلِ بخشش مُرَمَّم، ص۱۰۲

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د **پُل صِراط** تِياره په رنړا کښې او د هغې ويره په اِطمينان او سُکون کښې د بدلولو يو عمل د **الله** پاک په لاره کښې **صدقه** ورکول هم دي. خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارك دے: چا چې په دُنيا کښې په ښه طريقه صدقه ورکړه هغه به په **پُل صِراط** باندې تير شي. (1)

د حديثِ پاك نه معلومه شوه چې د **صدقے** ډير برکتونه دي. ځکه د **الله** پاک په لاره کښې څه نه څه ورکول او صدقه و خيرات کول پکار دي.

## د نورو د عِزَّت حفاظت کول

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** په پُل صِراط باندې کار راتلونکے يو عمل د مسلمان د **عِزَّت** حفاظت کول هم دي. حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکي: د کوم مسلمان غيبت چې کيږي، د هغه **عِزَّت** بچ کوونکے به فرښته په خپلو وزرو کښې پټ کړي او په پُل صِراط باندې به ئې تير کړي چې د دوزخ تود والے ورته اُونه رسي. (2)

مونږ له پکار دي چې د نورو د **عِزَّت** حفاظت کوو ❁ چا ته تکليف نه ورکوو ❁ په چا د دروغو اِلزام نه لګوو ❁ د چا په باره کښې بدګماني نه کوو ❁ د چا زړه نه خفه کوو ❁ په چا پوري پټي شا بد نه وائيو ❁ په چا پورې ټوقې نه کوو ❁ د چا بے عِزَّتي نه کوو ❁ په سازشونو کولو د چا په ترقئ کښې رُکاوټ نه جوړوو ❁ د چا د بدنامولو د پاره د هغه بدئ خلقو ته نه ښکاره کوو، که نن مونږه د چا سره ښنګه سلوك

---

1...حلية الاولياء، ٣/٢٥٦، حديث: ٣٨٤٧

2...مرأة المناجيح، ٦/٥٧٢ ملخصاً

کوو صبا هغه شان زمونږ سره هم کيدے شي، او که مونږه د هر يو د عِزَّت حفاظت کوو، د هر يو سره ربښتيا وايو، د هر يو احترام کوو، د هر چا په باره کښې ښه ګمان ساتو، هر چا سره ښه کوو نو که **اللّٰه** پاك ته منظوره وه نو زمونږ سره به هُم د هر طرفه ښه سُلوک کيږي. ياد ساتئ! څنګه چې بد عمل د بنده د پاره د بدئ دروازه بيرته کوي، هم دغسې ښه عمل هُم د ښيګړې ډيرې دروازے برسيره کوي او د ښه عمل جزا ضرور مِلاويږي.

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** په احاديثو کښې د دې نيکو اعمالو نه علاوه نور هم ډير اعمال داسې دي چې په **پُل صِراط** باندې د آسانئ ذريعه جوړيږي، لکه ډير دُرُود شريف لوستل، جمات ته ډير زيات حاضريدل، د يو مسلمان پريشاني لرې کول، په امانت کښې خيانت نه کول، د خپلو خپلوانو سره ښه سلوك کول، د نيکئ په کارونو کښې سفارش کول، مسواك استعمالول وغيره.

# پُل صِراط باندې تيريدلو کښې رُکاوټ جوړيدونکي اعمال

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** راځئ چې اوس د هُغه اعمالو په باره کښې واورو کوم اعمال چې **پُل صِراط** باندې د پريشانئ او نقصان سبب ګرځيدے شي.

## ظُلم کول

په **پُل صِراط** نقصان ورکوونکي اعمالو کښې يو عمل ظُلم دے. په تورات شريف کښې ليك دي: د **پُل صِراط** د شا نه به يو غږ کوونکے غږ اوکړي: اے ظُلم او سرکشي کوونکو! اے عيش پرسته بدبختو! بيشکه **اللّٰه** پاك د خپل عِزَّت قسم خوري

چې د يو ظالم ظُلم هُم نن په دې پُل نه شي تيريدلے. (1)

## د اور بيړۍ

د خلقو مالونه ناحقه وهلووالؤ، ډاکے کولو والؤ، د خط يا فون په ذريعه ناجائزه (مثلاً د يو کس د تښتولو او بيا د هغه د پريښودلو د پاره د ډيرو) روپو غوښتلو والؤ ته ښه غور کول پکار دي چې نن خو حرام مال په ډيره آسانۍ سره خوړل محسوسيږي خو چرې په ورځ د قيامت مو په سخت مصيبت کښې اخته نه کړي.

حضرت فقيه اَبُو اللَّيث سمرقندي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: بيشکه په **پُل صِراط** باندې د اور بيړۍ دي، چا چې د حرامو يو درهم هم اخستے وي د هغه په ښپو کښې به د اور بيړۍ واچولے شي چې د هغې په سبب به هغه ته په **پُل صِراط** باندې تيريدل مشکل شي، تر هغې پورې چې د هغه دِرهم مالِك د هغه د نيکو نه د هغې په بدل کښې نيکۍ وانخلي. او که د هغه سره نيکۍ نه وي نو د هغه د ګناهونو بوج به هم اوچتوي او جَهَنَّم ته به غورزيږي. (2)

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** نن د زړه په صِدق د تيرو ګناهونو نه توبه اوکړۍ او تر اوسه پورې مو که په چا، چا ظُلقم کړے وي، د هغوئي نه مُعافـي اوغواړۍ او ياد ساتۍ د ظالم نه علاوه د هغه خلقو د پاره هم د غور و فِکر موقع ده، چې کوم بدنصيبه لمُونځ نه کوي، ګيره خرئي يا ئې د يو موټي نه کموي، يا مور و پلار خفه کوي، اولاد د

1... كتاب الكبائر للذہبی، الكبيرة السادسة والعشرون: الظلم، ص۱۱۹

2... قُرَّةُ الْعُيُون ومعه الروض الفائق ص ۳۹۲

شريعت د پابندۍ نه منع کوي او ماډرن ئې جوړوي، خپله بي بي او بالغې لونړه بےپرده ګرځوي، د فلمونو ډرامو، سندرو او سازونو، حرامه روزۍ، سودي تجارتونو، دوکه بازۍ، کنزلو، غيبتونو، **چُغلۍ**، عيبونه لټولو، بد نظري کولو، د شرعي اجازت نه بغير د مسلمانانو زړونه ازارولو، د بيلمَانځه او فيشن پرستو بدو دوستانو د صحبت او د شهوت باوُجود د ښکلو هلکانو د صحبت وغيره وغيره ګناهونو نه ځان نه ساتي، د داسې خلقو د پاره د غور مقام دے. داسې کس نه که **الله** پاك او د **هغه حبيب** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ناراضه شو او د ګناهونو په وجه ئې اِيمان برباد شو نو يقيناً د هميشه هميشه ناقابِل برداشت عذابونو کښې به اخته شي او په **پُل صِراط** باندې به ورته نُور هم نه ميلاويږي، چنانچه

## ستا د پاره هيڅ نور نشته!

حضرت سَيِّدُنا عبدُ الله بِن مُبارك رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: بيشکه تاسو د **الله** پاك په بارګاه کښې د خپلو نومونو، نښو، پټو خبرو، په مجلسونو کښې د ناستې او صُحبتونو سره ليکلي شوي ئې. چې کله د قيامت ورځ راشي نو غږ به اوشي: اے فلانکيه د فلانکي ځويه دا ستا نُور دے، اے فلانکيه د فلانکي ځويه **ستا د پاره هيڅ نُور نشته.** (1)

## دولسو ديني کارونو کښې يو ديني کار "مَدْرَسَةُ الْمَدِيْنَه بالغان"

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د مرګ د تيارۍ، د قبر و حشر د تيارۍ او **پُل صِراط** باندې په آسانه د پوريوتلو د تيارۍ د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل شۍ او د خپلو مصروفياتو نه وخت اوباسۍ او د ذِيلي حلقے

---

1...الزهد ص٦٥،رقم ١٣٢١

په 12 ديني كارونو كښې په اخلاص سره خپل كردار ادا كړئ او د ډيرو ثوابونو حقدار جوړ شئ. د ذيلي حلقے په 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار هره ورځ "**مَدْرَسَةُ الْمَدِيْنَه بالغان**" هم ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د دې ديني كار بے شميره فائدے او بركتونه دي، مثلاً ❁ "**مَدْرَسَةُ الْمَدِيْنَه بالغان** " د قرآنِ پاك لوستلو بهترينه ذريعه ده، ❁ " **مَدْرَسَةُ الْمَدِيْنَه بالغان**" د لمَانځه، اوداسه او غُسل وغيره ضروري مسائلو زده كولو بهترينه ذريعه ده، ❁ په "**مَدْرَسَةُ الْمَدِيْنَه بالغان**" كښې د حاضرئ په بركت ښه صحبت نصيب كيږي، ❁ د "**مَدْرَسَةُ الْمَدِيْنَه بالغان**" په بركت د قرآن كريم لوستلو سعادت نصيب كيږي، امامِ اَهلسُنَّت شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: بيشكه دومره تجويد چې د هغې په ذريعه د تجوِيد د قَواعِدو مطابق د حروفو صحيح مخارِج ادا كړے شي او د غلط لوستلو نه بچ شي، فرضِ عين دے.(1)

# د قرآنِ كريم زده كولو او نورو ته د زده كولو فضيلت

د **الله** پاك د خوږ حبيب، **مُحَمَّدِ عَرَبِي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: **خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهٗ** يعنې په تاسو كښې بهترين هغه كس دے چا چې قرآن زده كړو او نورو ته ئې ور زده كړو.(2)

راځئ چې! د ترغيب د پاره په "**مَدْرَسَةُ الْمَدِيْنَه بالغان**" كښې د لوستلو په بركت مشتمل يو مدني سپرلے واورو، چنانچه

# د مَدْرَسَةُ الْمَدِيْنَه بالِغان طالِبِ علم مُفتـى څنګه جوړ شو؟

---

1...فتاوىٰ رضويه، ۶/ ۳۴۳ـ ملخصاً

2...بخاری، كتاب فضائل القرآن، باب خيركم من تعلم الخ، ۳/ ۴۱۰، حديث: ۵۰۲۷

د کراچۍ د اوسيدونکي يو اسلامي ورور مُفتـی فُضَيل رضا عطاري مُدَّظِلُّہُ العَالِی د بيان خلاصه ده: د کالج د تعليم په دوران کښې به زما زيات وخت په ګپونو يا کرکټ وغيره لوبو کښې تيريدلو، زما د علاقے د يو اسلامي ورور سره ملاقات اوشو د هغه د محبت نه ډك انداز زه ډير متاثره کړم او ما د هغه په انفرادي کوشش په جُمات کښې د ماسخُتن د لمَانځه نه پس لګيدونکي **مَدْرَسَةُ الْمَدِيْنَه بالغان** کښې شرکت کول شروع کړو. او د **عاشِقانِ رَسُول** په صُحبت کښې مې صحيح قرآن کريم لوستل زده کړو. او بيا مې تقريباً د اتو کالو پورې په **مَدْرَسَةُ الْمَدِيْنَه بالغان** کښې نورو ته د صحيح مخارجو سره د قرآن کريم ورلوستلو سعادت حاصل کړو، په 1996ء کښې مې په درسِ نِظامي کښې داخله واخسته او 2003ء کښې فارِغُ التَّحصِيل شوم. په دې دوران کښې مې د فتوٰی ليکلو تربيت هُم حاصل کړے وو. د پير و مُرشِد په شَفقَت د مجلسِ تحقيقاتِ شَرعيه د رُکن په حيثيت د خپلو فرائضو ادا کولو سره سره په دارُ الاِ فتاء اهلسُنَّت کښې د دې لِيک د وخت پورې د **مُفتـی** او **مُصَدِّق** په طور د اِفتاء د خدمت کولو سعادت راحاصل دے.

مقبول جہاں بھر میں ہو دعوتِ اسلامی صدقہ تجھے اے ربِّ غفّار! مدینے کا[2]

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

# اسلامِك اى بُك لائبريري (ISLAMIC EBOOK LIBRARY)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي په ټوله دُنيا کښې د سُنتو پيغام عام کولو د پاره تقريباً په **80** شُعبو کښې ديني کار کوي. **اَلْحَمْدُ لِله!** د دعوتِ اسلامي **"آئی. ټی ډيپارټمنټ"** د عاشقانِ رسول د پاره ډير موبائل ايپلي کيشنز (Applications) جوړ کړي دي او نور هُم جوړوي. د دې تحت د اَوقاتُ الصَّلوٰة

"Prayer Times" " موبائل ايپلي کيشن ئې هم لاؤنچ کړے دے. دا ايپلي کيشن د اعلٰی حضرت مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عِلمِ تَوقِيت د تحقيق مطابق د لمُونځونو په وختونو مشتمل دے. په دې ايپلي کيشن کښې د پينځه لمُونځونو وختونه د هرې ورځې او ماهانه د وخت جدول، اَذکار (روحاني علاج)، مدني چينل ريډيو، د لمَانځه په وخت کښې د موبائل آټو سائلنټ کولو سهولت او اسلامي کيلنډر موجود دے. په دې ايپلي کيشن کښې د موجود ډيجيټل کمپاس په ذريعه د دُنيا په هر ځائے کښې د قبلے صحيح طرف معلومولے شئ. هُم نن په خپل موبائل کښې دا ايپ انسټال کړئ. او نورو ته هم د انسټال کولو مشوره ورکړئ.

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي."[1]

سينه تيری سُنَّت کا مدينہ بنے آقا — جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

**سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا — جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا**

# د نوکانو کټ کولو سُنَّتونه او آداب

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چې! د شيخِ طريقت، اَميرِ اهلسنت دَامَتْ

1...ابنِ عساکر ج۹ ص۳

بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د رسالے "101 مدنی پھول" نه د نوكانو كټ كولو سنتونه او آداب واورو: ❁ د **جُمُعے** په ورځ نُوكان پريك كول **مُسْتَحَب** دي. خو كه زيات غټ شوي وي نو د **جُمُعے** انتظار مه كوئ. (1) ❁ **صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه** حضرت عَلَّامه مولانا مُفتي **مُحمد امجد علي اعظمي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: منقول دي: څوك چه د **جُمُعے** په ورځ نُوكان پريك كړي **الله تعالیٰ** به هغه د بلې **جُمُعے** پورې د بلاګانو نه محفوظه ساتي او درې ورځې زيات يعني د لسو ورځو پورې. (2) ❁ په يو رِوايت كښې دا هُم دي چه څوك د **جُمُعے** په ورځ نُوكان پريك كړي نو **رحمت به راځي او ګناهونه به ځي**(3) ❁ د لاسونو د نُوكانو د پريك كولو منقول طريقه وړاندې كيږي [واورئ]: مخكښې د ښي لاس د شهادت د ګوتې نه شروع اوكړئ او ترتيب وار ئې د كچئ ګوتې د نُوك سره پريك كړئ خو غټه ګوته پريږدئ. بيا د ګڅ لاس د كچئ ګوتې نه شروع اوكړئ او ترتيب وار ئې د غټې ګوتې د نُوك سره پريك كړئ، بيا په آخره كښې د ښي لاس د غټې ګوتې نُوك پريك كړئ. (4) ❁ د ښپو د نوكانو پريك كولو څه ترتيب منقول نه دے، بهتره دا ده چه د ښئ ښپې د كچئ ګوتې نه ئې شروع كوئ او ترتيب وار ئې د غټې ګوتې د نُوكه پورې پريك كوئ، بيا د ګڅې ښپې د غټې ګوتې نه شروع كوئ او د كچئ ګوتې د نُوكه پورې ئې پريك كوئ. (5) ❁ د جَنابَت په حالت (يعني د غسل فرض كيدلو په صورت) كښې نُوكان پريك كول مكروه دي. (6) ❁ په غاښونو نُوكان كټ كول مكروه دي او د دې په وجه د برص يعني برګي

---

1...دُرِّمُختار، ٩/٦٦٨

2...مرقاة المفاتیح ج۸، ص۲، تحت الحدیث

3...دُرِّمُختار و رَدُّالْمُحتَار ج، ص

4...دُرِّمُختار و رَدُّالْمُحتَار ج، ص و اِحیَاءُ الْعُلُوم ج، ص

5...دُرِّمُختار ج، ص

6...عالمگیری، ٥/٣٥٨

مرض اندېښنه ده. (1) ❁ د نُوکانو کټ کولو نه پس هغه خخ کړئ او که غوزار ئې کړئ نو هم څه باک نشته. (2)

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه کتابونه (۱) د۳۱۲ صفحو کتاب ”بهارِشريعت“ حصّه ۱٦ او (۲) د۱۲۰ صفحو کتاب ”سُنّتیں اور آداب“ او د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ دوه رسالے ”101 مدنی پهول“ او ”163 مدني ګلونه“ هديةً واخلئ او اولولئ ئې. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!		صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې

---

1...عالمگیری، ۳۵۸/۵

2...عالمگیری، ۳۵۸/۵

د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴾3﴿ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾4﴿ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل

---

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

2 . . . القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰی لَہٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

---

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

3...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳

2... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حدى